دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهی فرمان

ای مؤمنانو! پر تاسو روژې فرض کړي شوي دي لکه چې له تاسونه پرمخکنیو امتونو فرض کړې شوي وه تر څو پرهیزگاران شئ. د روژې ورځې په شمار دي، هر څوک چې له تاسونه په دغو ورځو کې ناروغ شي او یا په سفر کې وي نو په نورو ورځو کې دې دغه پاتې روژې ونیسي. (سورة البقره)

نبوي ارشاد

له حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
روژه او قرآن کریم د قیامت په ورځ د بنده لپاره شفاعت کوي، روژه خپل رب ته وایي: ای ربه! بیشکه ما دغه روژه نیوونکی توله ورځ له خوراک څښاک او دده د نورو خوښي څیزونو څخه منع کړی و، نو ددې په حق کې زما شفاعت ومنه، قرآن کریم خپل رب ته وایي: ای ربه! ما دې د شپې له خوبه بند کړی و تر څو تهجد لمونځونه وکړي او قرآن کریم ولولي نو دده په حق کې زما شفاعت ومنه. نو الله تعالی ددوی دواړو شفاعت پخپل دربار کې مني. (مشکواة)

شهادت دویم کال، ۷۴ مه گڼه، سه شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د وږی ۱۲ مه د۱۴۳۱ هـ ق د رمضان المبارک ۲۸ مه د۲۰۱۰ م د سپتمبر ۷ مه

پیام تبریکیه حزب اسلامی افغانستان به مناسبت حلول عید سعید فطر

حزب اسلامی افغانستان حلول عید سعید فطر را برای کافه ملت مؤمن و مسلمان افغانستان تبریک عرض نموده و آرزو دارد که هموطنان عزیز ما با کسب فیض از برکات ماه پرنور رمضان ایام خجسته عید را در فضای صلح و آرامی و برادری سپری نمایند. و از خداوند منان خواهانیم که صلح، ثبات، امنیت و ترقی را در وطن رنج کشیده ما حاکم سازد. تا ما بتوانیم با همدلی، اخوت، وحدت و یکپارچگی بر تمام نارسایی های جامعه خویش فایق آییم.

اداره شهادت

PROPERTY OF ACKU

شمار نظامیان کشته شده غرب در افغانستان به ۲۰۶۵ نفر رسید

خبرگزاری فارس:
با کشته شدن تعداد دیگری از نظامیان ارتش امریکا و دیگر کشورهای هم پیمان آن در افغانستان، تعداد کشته شدگان نظامی خارجی در این کشور جنگ زده به ۲۰۶۵ نفر رسید.
به گزارش فارس به نقل از پایگاه اطلاع رسانی (iCasualties)، با کشته شدن دو تن از نظامیان خارجی مستقر در مناطق جنوبی افغانستان که یکی از آنها آمریکا و دیگری انگلیسی بودند، شمار کشته شده گان نظامی ارتش امریکا، انگلیس و دیگر کشورهای هم‌پیمان نظامی امریکا در کشور جنگ زده افغانستان به ۲۰۶۵ نفر رسید که تنها ۱ هزار و ۲۷۵ نفر از آنها امریکایی بودند.
بعد از نظامیان امریکایی، ارتش انگلیس است که بیشترین تلفات انسانی در افغانستان را متحمل شده است که تاکنون ۳۳۲ نفر از نظامیان خود را در مناطق مختلف افغانستان به ویژه در مناطق جنوبی این کشور از دست داده است.

طالبانو د ولسي جرگې د انتخاباتو د گډوډولو خبرداری ورکړ

تاند ویب پاڼه:
وسله والو طالبانو خبرداری ورکړ چې د افغانستان د ولسي جرگې لپاره د سنبلې د اووه ویشتمې نېټې انتخابات به سبوتاژ کړي. دوی له خلکو هم وغوښتل چې انتخابات بایکاټ کړي.
له تېرو دوو – دریو میاشتو راهیسې طالبانو عملاً د کاندیدانو او د هغو د کمپاینرانو د وژلو هڅې کړې خو دا لومړی ځل دی چې دا ډله په انتخاباتو کې خلک نه گډون ته وربولي او د انتخاباتو د گډوډولو خبرداری ورکوي.

پاتې ۴ مخ

افغانستان با پلان مذاکره صلح با طالبان به پیش میرود

صدای امریکا:
در حالیکه تلفات عساکر خارجی در افغانستان ادامه دارد، آن کشور با پلان مذاکره صلح با طالبان به پیش میرود. حامد کرزی، رییس جمهور افغانستان میگوید، تشکیل شورای عالی صلح "گامی عمده" بوده و درین گام اسمای رهبران جهادی که تا هنوز اعلان نشده است، همچنان شخصیت های پر نفوذ و زنان نیز شامل خواهد بود.
رهبران افغانستان و رهبران قبایلی با تشکیل این شورا در ماه جون توافق نموده بودند. این توافق بخشی از پلانی است که طبق آن به شورشیانی که خواهش دست کشیدن از

بقیه در صفحه ۴

زمری بشری: برنامه جلوگیری از استفاده مواد مخدر در صفوف پولیس روی دست است

کابل رسانه ها:
در ادامه تغییرات در بخشی از پست های کلیدی وزارت داخله افغانستان، مقامات وزارت داخله می گویند که برای بهبود فعالیت های پولیس و تنظیم امور در وزارت داخله، برنامه های بیشتری نیز روی دست دارند.
زمری بشری سخنگوی وزارت داخله که بروز یک شنبه با خبرنگاران صحبت می کرد، گفت که در مجموع چهار مورد تازه به هدف بهبود وضعیت کاری پولیس به اجرا گذاشته می شود.
وی گفت که مساله جلوگیری از استفاده مواد مخدر در صفوف پولیس و مبارزه با مواد مخدر از عمده ترین برنامه های است که به اجرا گذاشته می شود.
آقای بشری این اظهارات را در حالی بیان کرد که رسانه های خبری اخیراً گزارش دادند که تعدادی از منسوبین پولیس افغانستان به مواد مخدر معتاد هستند، اما سخنگوی وزارت داخله گفت، از این پس هر سال افراد پولیس مورد آزمایش قرار می گیرند تا افراد معتاد شنایی شوند.
آقای بشری هم چنان گفت، به اساس بررسی های به عمل آمده ۱۱۴ هزار پولیس در پیوند با استفاده از مواد مخدر راجستر شده اند که از آن جمله ۱۸۰۰ تن به مواد مخدر معتاد

بقیه در صفحه ۴

میرویس رحیمی را بشناسید!

صفحه سوم

کاندید حزب اسلامی افغانستان برای ولسی جرگه ولایت کابل سال ۱۳۸۹

سږکال په افغانستان کې د پرمختگ په اړه کله ناکله مبالغه شوې "ناټو"

آزادی راډیو:
بریتانوی جنرال سرنیک پارکر چې له جنرال ډېوېډ پېټرایوس وروسته په افغانستان کې د نړېوالو ځواکونو دوهمه درجه قوماندان دی وایې چې په افغانستان کې د پرمختگ چټکوالی ترهغې اندازې چې تمه یې کېده ټکنی څخه دی چې په افغانستان کې پوځي ماموریت پېچلی دی.
امریکایي جنرال ډېوېډ پېټرایوس په خپلو څو وروستیو مرکو کې له وسله والو طالبانو سره په جگړه کې د ناټو د پرمختگ ادعا وکړه او ویې ویل چې د طالبانو د زور مخه نیول شوې ده.
دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې جگړو د بل هروخت په پرتله ډېر زور اخیستی، ولسمشر بارک اوباما غواړي د وضعیت د څېړنې لپاره په راروانه ډیسمبر میاشت کې په افغانستان کې د امریکا د ستراتیژۍ بیا څېړنه وکړي، په افغانستان کې د نړېوالو سرتېرو د زیاتو تلفاتو له امله په لویدیځ کې د افغانستان د جگړې ملاتړ په کمېدو دی.
په تېر یوه کال کې په خاص ډول امریکایي او بریتانوي ځواکونو څو ځلې په هلمند او کندهار کې د طالبانو د ځپلو په مقصد پوځي عملیات وکړل.
په فبروری میاشت کې د هلمند ولایت په مارجې ولسوالۍ کې د مشترک په نامه عملیات وشول چې په ترځ کې یې د ناټو

پاتې ۴ مخ

موثریت شورای صلح بستگی به همکاری حکومت پاکستان دارد

کابل رسانه ها:
بخش اعظم بحث ها در اجلاس روز یکشنبه مشرانو جرگه در خصوص تاسیس شورای عالی صلح در افغانستان متمرکز بود و اعضای این مجلس در زمینه نظرات متفاوت داشتند.
حضرت صبغت الله مجددی رییس مشرانو جرگه گفت که موثریت شورای عالی صلح بستگی به همکاری حکومت پاکستان به خصوص سازمان استخبارات آن کشور دارد.
آقای مجددی علاوه کرد که اگر پاکستان در راستای برگشت طالبان مسلح به زنده گی عادی با حکومت افغانستان همکاری می کرد تا کنون تمام افراد بلند پایه طالبان که اکثراً در پاکستان به سر می برند به وسیله کمسیون تحکیم صلح جذب می شدند.
وی افزود:
"کلید همه کار ها نزد آی اس آی پاکستان است تا وقتی که آی اس آی موافق و راضی

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

اختر مو مبارک شه

راځئ پخپلو ځانو کې د روژې د اصل روح د پیدا کولو ژمنه وکړو

د خپل پالونکي رب ډېر ډېر شکر ادا کوو چې د روژې مبارکې میاشتې روژې مو په ډېره مینه او خوښۍ ترسره او اوس د وړوکي اختر خوښۍ لمانځو.

روژه په ځان کې د تقوی، صبر، اخلاص، همدردي، ترحم، عاطفي او ایثار د پیدا کولو له پاره فرض کړې شویده تر څو مسلمانان ددغو غوره اوصافو په درلودلو سره د ټولنې گټور او فعال عنصر په توگه ژوند تیر کړي، د یو بل په کار راشي او په گډه د اخلاص، صبر، همدردي، ترحم او ایثار په فضاء کې د مینې او ورورولۍ خوږ ژوند پرمخ بوځي.

د روژې مبارکې میاشتې د روژو په نیولو موږ سږ کال هم له خپل پالوونکي ذات په وړاندې دا عهد او ژمنه وکړه چې لکه څرنگه مو د روژې په میاشت کې خاص ستا د خوښۍ او رضا د ترلاسه کولو لپاره پوره یوه میاشت له هر ډول خوراک څښاک او نورو نعمتونو څخه کلک پرهیز وکړ او د گرمۍ په اوږدو ورځو کې وچې شونډې او خالي گېډه وگرځیدلو، شپه مو د تراویح لمونځ او د قرآنکریم په ختم کې رڼه کړه همداسې ټول کال به ستا د حکمونو مطابق خپل ژوند ترسره کوو، صبر، اخلاص، همدردي، عاطفه، ایثار او عفوه به خپل شعار او گاڼه گرځوو، داسې کارونه او عملونه به نه کوو چې ستا د قهر او خپگان باعث وگرځي.

د روژې میاشت په حقیقت کې د مسلمانانو له پاره د تمرینګ میاشت ده، ددې اصل مقصد دادی چې په مسلمانانو کې د روژو په نیولو د الله ویره او مینه پیدا شي. دومره قوت پیدا کړي چې له هغو ټولو کارونو څخه په کلکه ډډه وکړي چې د الله تعالی خوښ نه دي، څکه خو هغه جل جلاله د روژې د حکم ترڅنگ د (لعلکم تتقون) د څرگندو الفاظو په ویلو مسلمانانو ته دا پیغام ورکړی دی چې ښایي د روژو په نیولو سره تاسې پرهیز گاران شئ. لدینه په ښکاره ډول معلومیږي چې د مسلمانانو په ژوند کې تقوی او پرهیز گاري مهم اصل دی، یوه مسلمانه ټولنه په واقعي معنی هله د الله د خوښې او بریالي ژوند د تیرولو جوگه کیدلی شي چې د تقوی او پرهیز گاری ژوند خپل کړي، له ټولو هغو کړنو څخه لاس په سر شي چې له تقوی او پرهیز گاري سره ټکر کوي.

تقوی د مسلماني ټولنې اصل روح دی، کومه ټولنه چې د تقوی له روح څخه خالي وي هغه په حقیقت کې له هر ډول ښیگڼې، سکون او آرام ژوند څخه محرومه ده.

راځئ د روژې اصل مقصد په نظر کې نیولو سره د تقوی او پرهیز گاری لاره ونیسو، خپل ټول ژوند د تقوی او پرهیز گاري یو مثال وگرځوو، له پرهیز گاري او تقوی سره منافي ټولې کړنې او هلې ځلې پریږدو. خپل منځي ټولې جگړې، اختلافات، بغض، عناد او تعصبونه د تقوی په توره له منځه یوسو، یو بل ته د ورورۍ، همدردي، ایثار، عاطفي، اخلاص او مینې لاسونه ورکړو، د یو سوچه اسلامي حکومت د قیام له پاره یو بل ته د مرستې لاسونه وراوږد کړو، د کفر، شرک، ظلم، استبداد او تیرۍ په خلاف گډ صف ونیسو.

خپله خاوره، عقیده او فرهنگ د غلیمانو له هر اړخیز یرغل څخه وساتو، د ټولو استعمار چیانو لاسونه ورلنډ او خپل ملت ته دهغوی له ناولي عزائمو څخه نجات ورکړو. موږ باید پدې واقعیت اعتراف وکړو چې تر څو مو دغه پورتني کارونه نه وي ترسره کړي، زموږ روژې د الله په وړاندې نه دي منظور شوي او د تقوی هغه روح مو نه دې ترلاسه کړی چې الله تعالی دهغه دترلاسه کولو امر کړیدی او د یوې اسلامي ټولنې لپاره حیاتي ارزښت لري.

موږ به هله د وړوکي اختر د مبارکۍ واقعي حقدار وگرځو چې د روژې اصل روح په عملي بڼه پخپل هیواد او ولس کې ژوندۍ کړو.

لوی الله دې زموږ روژې پخپل دربار کې منظور، او پدې مو موفق کړي چې خپل ځانونه په عملي بڼه کې د تقوی او پرهیز گاري ژوندۍ مثال وگرځوو، او د الله تعالی د رحم او عاطفي مستحق شوو چې همدا د مسلمان له پاره په دنیا او آخرت کې ستر بری دی.

د غمونو او ویرونو یو بل اختر

محمد خلیل

دا د افغانانو دوه دیرشمه وړوکی اختر دی چې د غم او ویر په تغر کې تیروي. له کومې ورځې نه چې په افغانستان کې د کمونستانو له خوا د غوایی شومه کودتا شوې له همغې ورځې د افغانانو خوشالي کډه کړې، امن او سکون یې تباه شوې، له خپل گران هېواده بې کوره شوي او په پردیو هېوادو کې د محتاجی او گدایۍ ژوند تیرولو ته اړ شوي دي، لویشت لویشت ځمکه یې د اسلام او خاورې د پتنگانو په وینه خړوبه شوې، هر څوک کړیدلي او رنځیدلی، ویریدلي او ترهیدلي، په سلگو یې سلگو ژړلي او ځېگر یې شین شویدې.

نه د اخترونو په خوشالي پوه شوي او نه د واده او کوژدن په خوښي، که ظاهراً څومره د خوښی د ښکاره کولو او د غم د هېرولو کوښښ یې کړیدې مگر دننه زړونه یې له غمه ډک او مخونه یې د زیړ شوي گلاب په څیر په دې خبره گواهي ورکوي چې افغان کړیدلي او مظلوم ولس د پرون په څیر نن هم د غم په لمبو کې وریتیږي.

د یو قوم ربښتوني او له خوښي ډک اختر دهغه خپلواکي او د ویرې پرته د امن ژوند دی. تر څو پورې چې له دغه لوی نعمته نه وي برخمن شوي هیڅ راز خوښی دهغه د زړه په کور کی ځای نه شي نیولې. که یو زمري ته د اوسپنې په پنجره کې څومره زیات خواړه او دهغه د خوښی څیزونه ورکړی شي بیا هم هغه د خپل ځنگل د آزاد ژوند په آرمان وي او کله هم د پنجرې ژوند ته د ځنگل په آزاد ژوند ترجیح نه ورکوي.

له څه شک پرته افغانان د پردیو له خوا تپل شویو جگړو او ناامنیو په پنجره کې راگیر دي، د استقلال او خپلواکی په مری یې چاړه ایښودل شوې ده، امنیت یې تالا ترغه، او د ژوند اسانتیاوی ترینه تر ورل شوي دي، له هر لوری وربانديې داسې یرغل روان دی لکه چې د ځنگل پر معصوم غرڅه داړونکي ځناور یرغل کوي، د افغانانو بدن ټپي ټپي او په سرو وینو لیت پیت دی.

روژه مسلمان ته د ټولو باطلو معبودانو او فرعونانو څخه د نجات پیغام ورکوي، او په دې خبره ورباندې تأکید کوي چې لکه څنگه مو خاص د خدای د رضا په خاطر روژه نیولې او یواځې هغه جل جلاله ته مو د غلامي او بندگي سرونه ایښې دی، همداسې د خپل ژوند په هره

ځانگه کې ایکی د یو الله حاکمیت او واکمنې ته غاړه کیږدئ، له هر طاغوت او جابر نه بغاوت وکړئ، د شیطان او دهغه د حواریونو د تقلید زنځیرونه وشلوئ، دهغوی دبرلاسی او باداری ایوانونه ونړوئ، د کفري او شرکي څواکونو باطل نظام دړې وړې او ارمانونه یې خاورې ایری کړئ. د یو مسلمان د بندگی او غلامي واقعي ژوند هله شروع کیږي چې هغه له هر څه مخکې خپل ځان د نورو د غلامی له حلقې نه بهر او د یو الله د بندگی حلقه په غاړه واچوي.

لوی الله د خپلو هغو بنده گانو او غلامانو مرستندوی او لارښوونکی دی چې خپل ځانونه یې د جنت په بدله کې پر خپل پالونکی ذات پلورلي دي.

موږ باید خپل دا گناه او قصور ومنو چې د خپل حقیقي بادار په وړاندې مو د بندگی او غلامی آداب په سهی توگه نه دی ترسره کړي او په دې نه یو توانیدلی چې دهغه جل جلاله نصرت او دوستي ترلاسه کړو.

له څه شک پرته له ټولو شته کړاونو، جنجالونو، بدامنیو، ناکراریو، دردونو، ټپونو، در په دریو، محتاجیو، تیریو، بې انصافیو او ناآرامیو څخه هله نجات موندلې شوو چې یواځې د یو الله په وړاندې د غلامی او عاجزی سرونه کیږدو، د الله د رسول محمد صلی الله علیه وسلم سهی اتباع وکړو، اسلامي نظام پخپل ځان لاگو، او احترام یې پر ځان لازم وگرځوو څکه چې الله جل جلاله له مسلمانانو سره د خپل نصرت وعده په دې خبره مشروطه کړی ده چې موږ دهغه نظام ومنو او دهغه په رڼا کې خپل ژوند عیار کړو. راځئ د روژې د اصل پیغام د عملي کولو لپاره صمیم عزم وکړو، کومې روژې مو چې نیولې دي دهغوی د واقعي نتیجې او هدف د ترلاسه کولو لپاره د خپلو نفساني غوښتنو او .. باطل شیطانی نظام د منلو پر ځای د یو الله نظام ته به بشپړ اخلاص غاړه کیږدو، ایکې د یو الله د غلامی آداب پر ځای کړو او په دې توگه د لوی الله د نصرت په ترلاسه کولو وتوانیږو چې له ټولو بدبختیو او بدمرغیو څخه خلاصون ومومو، اخترونو مو د خوشالي اخترونه شي او نور ټول ژوند مو د استقلال په آرامه فضاء کې تیره شي.

حضور نظامی امریکا در کشورهای اسلامی

مروان بشاره مبصر سیاسی شبکه تلویزیون «الجزیره» تصورات خود را در باره حضور نظامی امریکا در کشورهای اسلامی چنین بیان داشته است:

اگر چه اداره امریکا اطمینان میدهد که قصد دارد نیروهای خود را از عراق و افغانستان خارج سازد، ولی حضور نظامی امریکا در جهان اسلام روز به روز توسعه می یابد که به افزایش دامنه تشنج و دشمنی منجر میگردد. وعده های بارک اوباما در باره «گشودن صفحه نو» در مناسبات با جهان اسلام حرف پوچ ثابت گردید. این موضوع خاصتاً در مثال خروج قطعات محاربوی اردوی امریکا از عراق و افزایش متناسب انها در افغانستان بخوبی مشاهده میشود. این اصلاً نقل مکان قواء می باشد، نه خروج نیروها. نظر به انکه فاصله بین حرف و عمل، اعلامیه ها وسیاست، دیپلوماسی رسمی و ستراتیژی نظامی توسعه می یابد به همان اندازه تهدید بحران سیاسی برای اداره بارک اوباما افزایش می یابد.

ستراتیژی نو "اف پاک " (افغانستان پاکستان) که یک سال قبل تصویب گردیده، در مقابله با مقاومت مسلحانه در منطقه ناتوان ثابت گردیده است. شکست اشکار نظامی و سیاسی در چنین محلات، مانند ولایت هلمند افغانستان مشاهده میشود. ولی هم روبرت گیتس وزیر دفاع امریکا، هم مایکل مالین رئیس کمیته روسای درستیزهای نیروهای مسلح امریکا و هم دیوید پیتریوس قوماندان نیروهای امریکا و ناتو در افغانستان در باره ضرورت « به انجام رساندن کار» اعلام میدارند. در نتیجه، تمام وعده های رئیس جمهور امریکا در باره خروج قواء از افغانستان تا پایان سال اینده تحت سوال بزرگ قرار میگیرند.

مروان بشاره می افزاید: جنرالان امریکایی میتوانند بر نظرات خود پافشاری نمایند و شرکای خود را در ناتو به توسعه حضور شان در این کشور وادار می سازند. برعلاوه، وزارت خارجه امریکا در باره استخدام و استقرار اردوی خصوصی ۷ هزار نفری اجیران در عراق، برعلاوه ۲۰۰ هزار قراردادی که در عراق و افغانستان کار میکنند، فیصله نموده است. این همه حضور امریکا را در منطقه میلیتاریزه می سازد.

مبصر می افزاید که چندی قبل معلومات در این باره عرض اندام نمود که اداره امریکا عملیات محرم خود را در کشورهای اسلامی، منجمله، کشتارها توسط ضربات طیارات بی پیلوت ، افزایش می بخشد. بسیاری از این عملیات را سی. ای. ای. انجام میدهد که به گفته روزنامه «نیویارک تایمز» به سازمان «نیمه نظامی» مبدل گشته است. عملیات های سری دیگر را تعداد بی شمار قراردادیان خصوصی انجام میدهند. اگر چه به دفاع از چنین اعمال گفته میشود که انها از نقطه نظر زندگی انسانی « کم مصرف می باشند»، انها را بجای عملیات نظامی نه، بلکه یکجا با عملیات نظامی استفاده میکنند. طوریکه سیاست دانان میگویند، نیشتر به جای «مارتول» نه، بلکه برعلاوه ان استفاده میشود.

برعلاوه، روزنامه «نیویارک تایمز» می نویسد، که امریکا عملیات خود را در الجزایر، مراکش، لبنان، عربستان سعودی، سومالی، سودان، کینیا، ایران، پاکستان، تاجکستان و یمن توسعه می بخشد. عملیات جنگی امریکا در پاکستان و یمن همین اکنون بسیاری ها را به تفکر در این باره وادار می سازند: که ایا امریکا در این کشورها طوری بند نخواهد ماند، مثلیکه جورج بوش در تلک عراق و افغانستان گیر ماند؟ شکست امریکا در این دو دولت پیچیده از نقطه نظر نظامی نه تنها ناتوانی در باره بردن جنگ، بلکه در مورد تسخیر قلوب و عقول باشندگان این کشورهای دور دست نشان داد. جنگ های غربیان در سرزمین های شرقی فقط بی نظمی را گسترش میدهند.

ولی، با تاسف زیاد، واشنگتن، باوجود تسلسل شکست های نظامی، با پافشاری تمام تلاش می ورزد از قوه نظامی برای تحمیل اراده سیاسی خود استفاده کند که به تلفات سنگین انسانی و خسارات سیاسی منجر میگردد.

اعزامی

دین ستیزی رسانه ها به بهانهٔ آزادی بیان

شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان چندی قبل طی اجلاس هفتگی خود ضمن بحث و تبصره بر چگونگی روند نشرات تلویزیون های خصوصی و آثار و تبعات منفی آن در جامعه، پخش و نشر هر گونه نشرات خلاف موازین دینی، اخلاقی و ملی را ممنوع قرار داده و به رسم احتجاج نشرات تلویزیون امروز را مسدود نمود.

طبیعی است که آزادی بیان و مطبوعات که در قانون اساسی افغانستان به عنوان یک اصل مسلم در فصل حقوق و آزادی های افراد پذیرفته شده و تعمیل این اصل در جوامع عقب افتادهٔ شرقی بدون دادن قربانی ها و مشکلات فراوان بدست نمی آید که کشور ما نیز مانند سایر جوامع، با سپری کردن این فراز و نشیب ها در سال های اخیر توانسته است که این حق مسلم افراد را مشروعیت بخشیده و با دادن اجازه به بنگاه ها و رسانه های چاپی، صوتی و تصویری حق آزادی بیان را از قوه به فعل در آورده و با دادن جواز کار به رسانه های خصوصی، این حق را عملاً در جامعه تمثیل نماید، ولی متأسفانه عده ای از عناصر مغرض و بی باور به ارزش های دینی و اخلاقی، بجای آنکه از آزادی بیان در چوکات قانون به نحو احسن استفاده نمایند و با دریافت مجوز نشرات رسانه ای، موازین دینی و مصالح ملی کشور را زیر پا نکنند، با انتشار مطالب خلاف اصول دین و ملی، نه تنها اصالت آزادی بیان را جریحه دارد کردند، بلکه اسباب بی بندو باری، بد اخلاقی، دین ستیزی، تفرقه، تبعیض و بالاخره ناامنی را نیز در کشور فراهم کردند.

بدون شک ادامه نشرات شماری از تلویزیون های خصوصی بر روال جاری، باعث بهم خوردن نظم و وحدت ملی در جامعه شده و کشور را بسوي تباهی می کشاند بناً شورای امنیت ملی کشور با توجه به نتایج منفی آزادی بیان و استفاده سوء ازین حق و بالاخره با درنظرداشت حدود و اصول آزادی و احترام به اصل حاکمیت ملی و برقراری نظم و ثبات در رابطه به تخلفات نشراتی رسانه ها از قواعد و هنجارهای ارزشی، دینی و ملی مردم افغانستان که قبلاً در جلسات آن شورا مورد بحث قرار گرفته بود، ادامه روند فعلی نشرات رسانه های خصوصی را به حال جامعه خطرناک خوانده و شورای وزیران را با این شرح بر حذر ساخت که اخیراً بعضی از رسانه ها با دامن زدن به اختلافات مذهبی، لسانی، منطقوی و قومی از طریق پخش مطالب، نشر مصاحبه ها و نشرات مستقیم بدون کنترول، روح و روان مردم را آزار داده و ارزش های مقدس دینی و اخلاقی را در کشور به چالش گرفته و وحدت ملی ما را مورد تعرض قرار داده اند. چنانچه این موضوع به تخریش منافع و وحدت ملی کشور محدود نمانده، در تناقض صریح با ماده ۵۹ قانون اساسی افغانستان نیز قرار گرفته است. شورای وزیران پس از بحث مفصل روی موضوع، نشرات اخیر تلویزیون امروز را به دلیل دامن زدن به اختلافات مذهبی و برهم زدن وحدت ملی خطرناک در کشور، منافی جدی وحدت ملی و تهدید امنیت ملی خوانده و ادامه نشرات آن را برای حاکمیت ملی تلقی نمود و به وزارت اطلاعات و فرهنگ و اداره مستقل لوی څارنوالی وظیفه سپرد تا در مسدود نمودن تلویزیون امروز اقدام فوری نماید. همچنان شورای وزیران نشر برنامه های نامطلوب و فلم های غیر اخلاقی و مبتذل را در سایر تلویزیون های خصوصی که در مجموع خلاف موازین اسلامی میباشند، محکوم نموده و به وزارت اطلاعات و فرهنگ وظیفه سپرد تا در قسمت قطع نشرات آنها اقدام عاجل نماید. شورای وزیران به اتفاق آرا به تمام رسانه های آزاد اخطار داد تا از پخش هر گونه نشرات مبتذل و خلاف موازین اخلاق و مصالح ملی، امتناع ورزند، البته در صورت مشاهده خلاف، نشرات آنها مانند تلویزیون امروز مسدود خواهد گردید.

بدون شک شورای امنیت ملی به مسألهٔ خیلی مهم و حساس متوجه گردیده و با درک عمیق از تبعات منفی نشرات بی بندو بار تلویزیون های آزاد، خدمت بزرگی به تأمین وحدت ملی، برقراری نظم و ثبات و خدشه دار نشدن ارزش های دینی و اخلاقی مردم نموده است. در گذشته نیز از آدرس افراد، نهادها، سازمانها و ادارات دولتی

بقیه در صفحه ۴

میرویس رحیمی را بشناسید!

شهرت: انجنیر میرویس رحیمی فرزند محمد حسن، مسکونهٔ اصلی و فعلی چهاردهی بوده و در سال ۱۳۴۷ هـ ش در شهر کابل متولد گردیده است.

تحصیلات: میرویس رحیمی تعلیمات ابتدایی و متوسطه را در مکتب لامعهٔ شهید و دورهٔ ثانوی را در لیسه غازی عبدالله، لیسه انصاری و میتودیک کابل در رشته تعلیمات عمومی اکمال نموده است.

جهاد: میرویس رحیمی پس از فراغت مکتب، مانند هزاران هموطن دیگر خود، روانهٔ سنگرهای گرم جهاد گردید و سهم خود را در آزادی وطن از چنگ اشغال قشون سرخ اتحاد شوروی سابق ادا کرد.

هجرت: در جریان جنگ های داخلی و در دورهٔ طالبان دوباره به هجرت مجبور گردید و درآنجا در عرصه های اقتصادی، اجتماعی، علمی و فرهنگی برای مهاجرین مصدر خدمت گردید. بالاخص با تأسیس مراکز سواد آموزی و آموزش های حرفوی، در جهت ارتقای ظرفیت علمی و مسلکی فرزندان مهاجرین افغان خدمت نمود.

عودت به کشور: پس از سقوط رژیم طالبان، دوباره به کابل برگشت، با احداث فابریکه تولید مواد ساختمانی، سهم فعالی در بازسازی کشور گرفت و با تأسیس شرکت ساختمانی "کابل زیبا"، علاوه از بازسازی کشور، برای جمعی از هموطنان فرصت کار و روزگار را فراهم کرد.

تاسیس شورای مردمی چهاردهی: میرویس رحیمی در سال ۱۳۸۵ شورای وحدت ملی و مردمی مردم چهاردهی را تأسیس کرد و با گرفتن جواز رسمی برای این شورا، در بخش بازسازی و نوسازی منطقه، احداث پل ها و پلچک ها، تهیه آب آشامیدنی، ترمیم سرکهای فرعی قراء و قصبات و تمدید انرژی برق برای مردم چهاردهی خدمات فراموش ناشدنی ای انجام داده است.

حل و فصل نزاع های قومی: میرویس رحیمی در چوکات شورای مردمی چهاردهی علاوه از ارائه خدمات اجتماعی و اقتصادی به مردم منطقه، بخاطر اصلاح و حل و فصل اختلافات ذات البینی و نزاع های مردم، به صفت مصلح عمل کرده است.

نامزد شدن در پارلمان: با توجه به نقش بارز میرویس رحیمی در حل مشکلات مردم منطقه؛ شورای ملی و مردمی چهاردهی و مجاهدین حزب اسلامی به اتفاق هم، وی را نامزد انتخابات سال ۱۳۸۹ شورای ملی نمودند تا نامبرده از آدرس شورای ملی مصدر خدمات بیشتری برای مردم خود شود.

وظایف و مشاغل میرویس رحیمی:

- رئیس شرکت ساختمانی کابل زیبا
- رئیس شرکت رحیمی - نصرت لمتد
- رئیس شورای وحدت ملی و مردمی چهار قلبهٔ چهاردهی
- مسؤول نظارت کلپ های سپورتی منطقه چهار قلبهٔ چهاردهی

استعداد ذاتی: میرویس رحیمی ضمن مشاغل رسمی و خصوصی فوق الذکر، شخصیت خیر اندیش و مصلح، تحلیل گر مسایل سیاسی و اجتماعی، مشوق جوانان به کارهای خیر و سرگرمی های آموزشی و پرورشی و بالاخره شخص مخلص به اسلام، ارادتمند به مردم، دلسوز به وطن و علاقمند به آزادی و آبادی میهن می باشد.

اهداف: * رضای الله جل جلاله و پیروی از سنت حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سرخط برنامه های کاری ام را تشکیل میدهد. * خدمت صادقانه بخاطر حفظ استقلال، تمامیت ارضی، وطن عزیزم و مردم متدین و مظلوم افغانستان. * سعی و تلاش بخاطر تامین صلح دایمی سرتاسری، آبادی و بازسازی کشورم. * سعی و تلاش به منظور قانونمند شدن نیروهای ائتلاف در کشور مطابق به قانون اساسی و خواست و اراده مردم افغانستان. * دفاع از حقوق قانونی و شرعی تمام ملت مجاهد و مظلوم افغانستان. مهاجرین، وارثین شهدا، معلولین و معیوبین، کسبه کاران، دهقانان متعلمین، محصلین، کارمندان دولت تجاران ملی، جوانان، اطفال یتیم و بی سرپرست وطن، و قشر مظلوم اناث از دولت و نهادهای دولتی و اجتماعی. * مبارزه خستگی ناپذیر علیه فساد اداری، فساد اخلاقی، جهل، بی سوادی و ارائه برنامه های بدیل آن و جلو گیری از اشاعهٔ مفکوره های سمتی، منطقوی، لسانی، قوم گرائی، و اختلافات مذهبی و گروهی. * خواهان ایجاد زیربناهای بنیادی در عرصه های اقتصادی، فرهنگی، اجتماعی و پیدا شدن زمینه کار و شغل برای سایر هموطنان. * ارایه طرح به منظور جلو گیری از نشر و پخش برنامه های مبتذل شبکه های تلویزیونی اهم دولت خصوصی به همکاری وزارت محترم اطلاعات و فرهنگ دولت اسلامی افغانستان.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

پخوانی نوم: بامیم کیلر - اسلامي نوم: نوح

پخوانی مذهب: رومن کیتولک - د هېواد نوم: امریکا

د الله د توفیق پر ته حق نه شي تر لاسه کیدای
د یو عیسوي عالم د مسلمانیدو کیسه

زما نوم نوح بامیم کیلر دی. د امریکا د متحده ایالاتو په شمال مغربی ریاست کې زیږیدلی یم. زه د رومن کیتولک په یوه مذهبي کورنی کې لوی شوې یم. کله چې زه وړوکې وم نو زما روحاني ضرورتونه به د چرچ له لارې پوره کیدلې. کله چې مې له ښوانیدو وروسته د کیتولک په پوهنتون کې داخله واخست نو د مذهبي مطالعې په ترڅ کې زما په ذهن کې د خپلې عقیدې په اړه ډول ډول پوښتنې راولاړی شوې.

چرچ هیڅ ټاکلې معیار نه لرې نو ځکه کیتولک په عبادتونو او رسمونو کې هر وخت بدلون رامنځ ته کوي. د چرچ پادریان په کلیسایي قواعدو کې د نرمی او آسانی راوستلو حامیان دي د الله کتاب انجیل چې له عبراني ژبې څخه لاطینـي، او له هغې څخه انګریزي ته ژباړل شوې ډېرې برخې یې تحریف شوي دي، د زمانې په تېرېدو سره د الهی وحی پر ځای انسانانو د خپل سهولت په خاطر خپل خپل خیالات دننه کړل، تر دې چې د الله سپیڅلې کتاب انجیل یې د ګیتار او کلاسیکی موسیقی محتاج وګرځاو.

په کلیسایي عبادتونو کې د بدلون یوه وجه د عقیدې او نظریاتو مشکلات هم وو، د مثال په توګه د تثلیث عقیده چې ددې تشریح او تفسیر د نړی په تاریخ کې هیچا ونه شوای کړې، نه کوم پادري او نه هم کوم عیسوي په دې ونه توانید چې ددې قانع کوونکې تشریح وکړي.

د تثلیث د عقیدې په مطابق الله تعالی له جنت نه پر دنیا حکمرانی کاو، او دهغه زوی عیسی علیه السلام پر زمکه حکمران و، جبریل علیه السلام چې د یو سپین کوتر په څېر دی له دغو دواړو نه معمولي کردار لوبولی دی. (نعوذبالله من ذالک)

کله به چې زه په کوم مشکل کې راګیر شوم نو ما به دا فیصله نه شوای کولې چې له دغو دریو واړو څخه له چانه د مرستې غوښتنه وکړم، بالاخره زه دغې نتیجې ته ورسیدم چې الله تعالی باید پر دوه نورو غالب او حاکم ومنل شي. تر کوم وخت پورې چې عیسوي وم ددغو درې واړو په واکمنی او اختیاراتو کې مې کله هم د مساوات تصور نه دې کړې.

ما چې کله بایبل ولوست نو په دې کې متضادو خبرو ماته له پریشاني پرته بل څه رانکړ. او زه دې نتیجې ته ورسیدم چې په بایبل کې له وهم او تضاداتو پر ته انسانیت لپاره بل هیڅ څیز نشته او دا نشي کولې چې انسانیت ته لارښوونه وکړي او له بې لاریتوبه راوباسي.

په بایبل کې د الله تعالی وحې له انساني کیسو سره داسې خلط ملط کړی شوی چې د انسانانو له خوا له خانه جوړ شویو کیسو د الهی وحې اصلیت له منځه وړی او هیڅوک نشي کولې چې دغه کیسې له اصل حقیقت نه جلا کړي.

کله چې ما د ګلاسګو په پوهنتون کې داخله واخست نو زما د مطالعې محور فلسفه و، ما د جین پال سار ترې هزل هاریس، کارل مارکس، اینجلز، ایمانل درکهایم. جرمې شاپیرو، جرګن پیپر، ماسل، هیګل او نورو فلسفیانو نظریات ولوستل، ددې تر څنګ مې د اسلام په باره کې لیکل شوي کتابونه هم ولوستل او تر ډېره حده د اسلام د دین د حقانیت په اړه مې معلومات ترلاسه کړل.

په انګریزي ژبه ژباړل شوې قرآن کریم مې هم ولوست، که څه هم دا ترجمه یو عیسوي کړی وه مګر ددې له هرې کرښې نه د بایبل په مقابله کې دا ثبوت ترلاسه کیده چې قرآن واقعاً د الله تعالی کلام دی او په دې کې هیڅ ډول تحریف نه دی شوی.

څه موده وروسته مې په ګلاسګو یونیورسټي کې د عربي ژبې په زده کولو پیل وکړ، یواځې د نحو او صرف په زده کولو کې مې یو کال تېر کړ، بالاخر د بشپړ عربي د زده کولو لپاره مې قاهری ته د ورتللو پریکړه وکړه تر څو هلته له خلکو سره د خبرو اترو په ترڅ کې عربي ژبه زده کړم په مصر کې مې داسې تجربې وشوې چې دهغوی په وجه پر اسلام زما عقیده پخه شوه، هلته له نیکو او بدو وګړو سره لیدنې کتنې وشوې لیکن ما په هغوی کې د قرآن کریم هغه ژور اثر ولید چې په عیسوي نړۍ کې مې پر عیسویانو د بایبل اثر داسې نه و لیدلې.

د نیل دریا په غاړه کې د تفریح لپاره وتلې وم ګورم چې د دریاب پر غاړه یو مصري مسلمان لمونځ کوي، ما غوښتل چې دهغه وړاندې تیر شم مګر پدې خاطر ودریدم چې هسې نه دهغه په حضور او خشوع کې خلل راشي، هغه په لمونځ کې دومره غرق و چې له دنیا او مافیها څخه بالکل ناخبره وه ما په عیسویانو کې داسې توجه او خصوع پخپل ټول ژوند کې چېرته نه و لیدلې، زما په تصور کې هم دا نه راتلو چې یو انسان له خپل خالق او مالک سره داسې ژور تعلق پیدا کولې شي.

د خان الخلیل ته نژدې په یو ښوونځی کې مې زده کوونکی هلک ولید، هغه په انګریزی کې ماتې ګوتې خبرې کولې شوی، موږ به په ځینو ورځو کې پخپلو کې خبرې کولې، یوه ورځ هغه څو کیلومتره له ما سره پیدل روان شو او ډېرې خبرې مو وکړی. کله چې مو له یو بل نه خدای پاماني وکړ نو هغه زما د مسلمانیدو په خاطر خپل رب ته ددعا لاسونه اوچت کړي وو. ښایي دا دهغه ددعا برکت وي چې زه د اسلام ددین په طرف مایل شوم.

یوه ورځ مې په قاهره کې له یمني مسلمان سره ملاقات وشو. هغه ماته په عربي ژبه کې لیکل شوی قرآن کریم راکړ تر څو دهغه په لوستلو عربي زده کړم. زما په کوټه کې میز نه و او ما به خپل کتابونه پر فرش ایښودل، قرآن کریم مې هم دهغو کتابو په څنګ کې په فرش کیښود، زما یمني دوست په منډه راغی قرآن کریم یې اوچت کړ او راته یې وویل تر څو پورې چې د خپل کټ پر بالښت د ایښودلو وعده راسره ونکړی قرآن کریم درته نه درکوم، ما له هغه سره وعده وکړه چې همداسې به کوم. له قرآن کریم

پاتې ٤ مخ

شهادت اوونیزه
خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ډیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

مبارزه علیه فساد و طالبان لازم و ملزوم یک دیگر اند

واشنگتن پوست:
قوماندانان نظامی امریکا در افغانستان در نظر دارند یک ستراتیژی را انکشاف بدهند که در آن بعضی فساد اداری قابل تحمل و مدارا باشد، ولی جلو فساد و تخطی های تباه کننده در قرارداد های امریکا در افغانستان از طریق وضع مقررات سخت تر مهار شود.

این مطلب را روزنامهء واشنگتن پست به نقل از یک مقام نظامی امریکا گزارش داده است.

روزنامه می نویسد، مقامات نظامی امریکا به این نتیجه رسیده اند که تهدید بزرگ برای ثبات در افغانستان شورشیان طالب است و تلاش های جدی برای ریشه کن ساختن فساد، باعث ایجاد آشفتگی ها و بی نظمی ها می شود و در اداره خلایی را بوجود می آورد که طالبان می توانند از آن بهره برداری کنند.

یک مقام بلند پایه نظامی امریکا به روزنامهء واشنگتن پست گفته است:

« این جا ساحات است که شما به رهبری قوی ضرورت دارید. بعضی از این رهبران بطور کامل پاک و بی غش نیستند. اما در جهت تعقیب تهدید اصلی که عبارت از طالبان است، آنها می توانند ما را بصورت موثر کمک کنند.»

به نوشته روزنامهء واشنگتن پست، موضوع فساد در هفته های اخیر و خاصتاً دستگیری یک مشاور بلند پایه رییس جمهور کرزی از موضوعات عاجل روز در کابل بود و سوال تازهء را در بارهء تعهد حکومت کابل علیه فساد بوجود آورد.

مقامات بلند پایه ادارهء بارک اوباما از مدت ها به این طرف هم مکرراً روی ضرورت ریشه کن کردن فساد در افغانستان تاکید کرده اند و حتی دو تیم یکی از ادارهء تحقیقات مرکزی امریکا "FBI" و دیگر از ادارهء ضد فساد و جرایم را موظف ساختند تا موارد مربوط به فساد اداری را جمع آوری کنند.

اما روشن نیست که آیا قصر سفید، وزارت خارجه و سازمان های مجری قانون ایالات متحدهء امریکا به این نظر مقامات نظامی آن کشور بلی می گویند یا خیر؟ خاصتاً در این زمانیکه به نوشتهء روزنامه واشنگتن پست، بعضی از مشاورین نظامی و ملکی قوماندان نیروهای ناتو در کابل روی تلاش های وسیع تر جهت ریشه کن کردن فساد اداری تاکید دارند و می گویند، فساد اداری و عدم موثریت حکومت در این زمینه سبب شده تا بسیاری افغان ها از شورشیان طالب حمایت کنند.

یکی از مشاورین به روزنامه گفته است:

« شما نمی توانید مبارزه علیه فساد را از مبارزه علیه طالبان جدا کنید. این دو لازم و ملزوم یک دیگر اند.»

اما روزنامهء واشنگتن پست در اخیر مقاله به نقل از مقامات امریکایی و تحلیلگران نظامی می نویسد، به چالش کشیدن دلالان قدرت و گروپ های جنایی که بسیاری آنها به قرارداد های بازسازی ایالات متحدهء امریکا وابسته هستند و با مقامات بلند دولت افغانستان نیز ارتباط دارند، احتمالاً باعث افزایش بیشتر نا آرامی ها شوند، خاصتاً در این زمانیکه عملیات بزرگ نظامی در جنوب افغانستان روی دست است.

ستیفن بایدل یک تحلیلگر در شورای روابط خارجی امریکا که مشاور قوماندان نیروهای امریکایی و ناتو در افغانستان است می گوید، پایان دادن به شبکه های حمایوی مافیا آسان و ارزان بدست نمی آید.

دین ستیزی رسانه ها به ...

شکایت های متعددی در این رابطه به مراجع مربوط مواصلت ورزیده بود و روی این موضوع به کرات در پارلمان، شورای علما و کمیسیون بررسی تخلفات رسانه ای، مباحث طویلی صورت گرفته و فیصله های هم برای توقف این روند صادر گردیده، و در مورد خیلی از شکایت های وارده از این باب، سال های گذشته در کمیسیون بررسی تخلفات رسانه یی در هر هفته بحث های طولانی و دوامدار صورت گرفته که در بعضی موارد به آنها توصیه و یا اخطار صادر شده و در بعضی موارد غرض تعقیب عدلی و قضایی به ارگان های متذکره راجع گردیده است.

بی اعتنایی رسانه های تصویری بالاخره کار را بجایی رساند که شورای امنیت ملی متوجه خطرات شدید این تخلفات گردیده و ضمن بحث روی آن نگرانی خود را در شورای وزیران مطرح نماید. شورای وزیران با صدور فیصله آن چنانی، نشرات تلویزیون امروز را، مسدود و به سایرین نیز اخطاریهٔ شدید الحنی صادر نمود که در صورت عدم توجه و تکرار موارد خلاف به سرنوشت تلویزیون امروز مواجه خواهند شد.

واقعیت اینست که آزادی بیان یک اصل است، ولی در چوکات قانون و با رعایت حدود و اصول آزادی که در شریعت اسلام، قانون اساسی و سایر قوانین به آن اشاره گردیده است. هر گاه این حدود و شرایط در آزادی بیان رعایت نگردد، حقوق و آزادی های دیگران جریحه دار گردیده و آزادی بیان زیر سوال می رود، فیصله یی که اخیراً شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد نشرات دین ستیزانه و بنیان برانداز بعضی رسانه ها صادر نموده است، ایجاب می کرد که چنین کاری چند سال قبل باید صورت می گرفت تا آثار و تبعات منفی آن تا این حد ذهنیت عامه را تخریش نمی کرد، ولی بهر حال ناوقت هم که شده، فیصله بجا و موثر است و بدون شک نتایج مثبتی را در بر خواهد داشت. تخلفات رسانه یی باید دست کم گرفته نشده و با توجه به آثار و نتایج سوء آن در جامعه منبعد در برابر این گونه قضایا با جدیت برخورد صورت گیرد تا متخلفین جرئت تخلف از اصول دینی و قانونی را نیافته و از آزادی بیان به نحو شایسته استفاده نمایند.

د الله د توفیق پرته حق نه شي ...

سره دهغه له عقیدت او محبت نه زه ډېر زیات متأثر شوم په داسې حال کې چې هغه کوم مذهبي عالم نه و لیکن بیا هم له قرآن کریم سره دهغه مینه آخري کچې ته رسیدلې و. یوه ورځ زه د نیل دریاب په غاړه روان وم چې په معمولي جامو کې پټه یوه زرهٔ ښځه زما مخې ته راغله هغې په تور څادر کې خپل ټول ځان رانغښتی وه، کله چې زما له څنګ تیره شوه نو هغې دځه ویلو پرته یوه سکه زما په طرف وغورځاو او روانه شوه. زه دهغې پر دغې ایثار ډېر حیران شوم، سره لدینه چې زه غیر مسلم پردیسې وم مگر بیا هم هغې زړه سواندې له ماسره مرسته ضروري وګڼله، دهغې دا کار د الله او د هغې ترمنځ د مضبوط تعلق گواهي ورکوله، دغو مختلفو تجربو او پېښو زه دیته اړ کړم چې نور هم د اسلام په باره کې معلومات ترلاسه کړم او ډېر کتابونه ولولم، د قرآن کریم په لوستلو دې نتیجې ته ورسیدم چې د هغه هره خبره واضحه او څرگنده ده، هر حکم یې په دلیل او منطق سره دی، په هغه کې له حضرت آدم علیه السلام نه تر حضرت عیسی علیه السلام پورې د هر یو پیغمبر یادونه په ډېر احترام سره شویده.

عیسویان خو د محمد صلی الله علیه وسلم او د اسلامي شعائرو بې حرمتي کوي مگر مسلمانان د عیسی علیه السلام او دهغه د حواریانو بې حرمتي نه کوي، مسلمانان انجیل ته هم د الله کتاب وایي خو دا پخپل اصل بڼه کې نه دی پاتی، بلکې په دې کې له ځانه جوړ شوي انساني کیسې او افسانې داخل کړي شوي دي.

د اسلام لومړی سبق دا دی چې الله تعالی رحمن او رحیم ذات دی، هغه انسان، دې مقصد لپاره پیدا کړی دی چې د خپل خالق بندگي وکړي او هر وخت له رحم او عاطفې نه کار واخلي. یوه ورځ په قاهره کې زما یو دوست راته وویل چې ته اسلام ولې نه منې او د اسلام په دین ولې نه مشرف کیږې؟ دهغه دا خبره زما په زړه ډېر زیات اثر وکړ او زه دیته لیواله شوم چې ژر تر ژره اسلام قبول کړم، همغه و چې په قاهره کې کال ۱۹۷۷ ع کې مې اسلام قبول کړ او له هغې زماني نه تر اوسه پورې مې څو کتابونه لیکلي او څو نور کتابونه مې ژباړلي دي، په حقیقت کې د سلامتي لاره هغه څوک خپلوي چې الله تعالی ورته توفیق ور کړي، خو دا هله چې په انسان کې هم ددغې لارې د موندلو لټه موجوده وي، لکه چې الله فرمایي: ((وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا)).

طالبانو د ولسي جرگې د ...

طالبانو په تېرو دوو میاشتو کې لږ ترلږه څلور کاندیدان او پنځه تنه کمپاینران وژلي او په پښتني سیمو کې یې خلک له کاندیدو څخه منع کړي دي.

طالبانو دا خبرداری یوازې یوه ورځ وروسته له دې ورکړ چې ولسمشر کرزي له طالبانو او د خپل دولت له نورو وسله والو مخالفانو سره د سولې لپاره د عالي شورا د جوړېدا اعلان وکړ. ددې شورا اعلان له طالبانو سره د خبرو او پخلاینې لور ته یو بل گام بلل شوی وو.

د سنبلې د اووه ویشتمې نېټې انتخابات په افغانستان کې د ولسمشر بارک اوباما د نوې ستراتیژۍ ازموینه گڼل کېږي او د افغانستان د امنیتي وضعیت اندازه پرې سنجول کېږي.

د ولسي جرگې انتخابات په داسې حال کې ترسره کېږي چې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو شمېر یونیم لکو ته رسېدلی او د ملي اردو او ملي پولیسو شمېر هم د ولسمشرۍ د انتخاباتو د وخت په پرتله په لسگونو زره زیات شوی دی.

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد وویل:« دا انتخابات د افغانستان د لا زیات اشغال لپاره یو بهرنۍ بهیر)پروسه(دی او موږ له افغانانو غواړو چې په هغو کې برخه وانخلي.موږ د دغو انتخاباتو پرضد یو او ترخپله وسه وسه به هڅه وکړو چې مخه یې ونیسو.زموږ لومړنی هدف به بهرني پوځیان او ورپسې افغان ځواکونه وي.»

د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمیسون د ناامنیو له کبله ۹۳۸ انتخاباتي مرکزونه بند کړي او وایي چې شپږ زره اته سوه پنځه دېرش نور مرکزونه به پرانستي وي.بند کړای شوي مرکزونه پر هغو سربېره دي چې مخکې تر مخکې د دولت د نه حضور له کبله په پام کې نه وو نیول شوي.

ټول بند مرکزونه په پښتني سیمو کې دي.

افغانستان با پلان مذاکره صلح با ...

خشونت را داشته و ارتباط خود را با شبکه های دهشت افگن قطع میکنند، پول و کار داده میشود. طالبان تا کنون علاقه کمی به این مذاکرات نشان داده اند.

در عین حال ناتو میگوید، دو عسکر دیگر این قوا توسط شورشیان در جنوب افغانستان کشته شد. عسکر دیگر بروز شنبه در اثر انفجار یک بم هلاک گردید.همچنان بروز یکشنبه رسانه خبری جاپان اطلاع داد که تندروان یک خبرنکار جاپانی را که در شمال افغانستان ۵ ماه قبل مفقود شده بود، رها نموده اند.

مقامات میگویند، کوسو که سونیو که ۴۱ ساله است رها شده و بعداً به سفارت جاپان در کابل انتقال داده شد. سینویو که در ماه مارچ در حالیکه راهی قندوز برای مصاحبه با مقامات بلندرتبه طالبان بود، مفقود شده بود.

سږکال په افغانستان کې د ...

ځواکونه د وسله والو له سخت مقاومت سره مخامخ شول.

د ناټو مرستیال قوماندان جنرال سرنبک پارکر چې په کابل کې د خبریالانو له یوې ورې ډلې سره خبرې کولې وویل، که هغه خبرې چې موږ په جنوری او فبروری میاشتو کې، له مشترک عملیاتو مخکې کولې واورئ، نو به شئ چې موږ ښایي له حده زیات هیجاني شوي وو.

جنرال پارکر زیاته کړه چې ده هم هغه مهال د ځینو مسایلو په برخه کې یوڅه زیات مثبت نظر لاره. ده وویل سره له دې چې په مارجې ولسوالی کې د عملیاتو پرمهال ستراتیژي داوه چې باید په هره ممکنه طریقه په سیمه کې حکومتي نظام فعال شي خو اوس دا ثابته شوې ده چې په دې سیمه کې د یوې دوامداري اداري او د مرستندویو ټولنو فعالول ترهغې اندازې ستونزمن وو چې موږ یې تمه درلوده.

د ښاغلي پارکر په وینا په دې برخه کې هېڅوک نه دي ملامت بلکې ستونزه د هغه چاپېریال په پېچلي حالت کې ده چې ناټو عملیات په کې کوي.

د تېرې سې شنبې په ورځ د امریکا او ناټو عمومي قوماندان جنرال ډیویډپېټرایوس په یوه مرکه کې وویل چې د ده تر قوماندې لاندې ځواکونو د وسله والو طالبانو گڼ شمېر مشران وژلي دي، خو ده دا اعتراف هم وکړ چې وسله وال طالبان مقاومت کوي او د دوی د ښنو پل سږ کال زیات شوی دی.

خو دې بریتانوي قوماندان چې دنده یې د رواني میاشتې په وروستیو کې پای ته رسېږي همدا راز وویل چې له ټولو ستونزو سره سره د ایساف ځواکونو وروورو په نا امنو سیمو کې د امن ساحو په رامنځ ته کولو پیل کړی څو حکومت او مرستندویې ټولنې وکولای شي هلته فعالیت وکړي.

موثریت شورای صلح بستگی به ...

نشود طالب را آورده نمی توانیم."

در جرگه ملی مشورتی صلح در کابل تصمیم گرفته شد که به هدف ادامه و پیشبرد تلاش های صلح در افغانستان شورای عالی صلح ایجاد شود، اما حکومت افغانستان پس از گذشت سه ماه از این جرگه به روز شنبه گفت که تاسیس شورای عالی صلح به مرحله نهایی رسیده و نام های اعضای آن که متشکل از شخصیت های جهادی، متنفذین و نماینده گان زنان خواهند بود بعد از روز های عید اعلام می شوند.

در همین حال داکتر زلمی یک عضو مشرانو جرگه گفت که اعضای شورای عالی صلح باید افراد باشند که سابقه جرمی نداشته و برای همه به شمول مخالفین مسلح قابل قبول باشند.

اما برخی دیگر از اعضای مشرانو جرگه می گویند که در گذشته هم نهاد ها و کمسیون های به هدف پیشبرد تلاش های صلح در افغانستان آغاز به فعالیت کرده اما به باور آنان نتایج مثبت به دنبال نداشته اند.

اما حکومت افغانستان که به شورای عالی صلح امید بیشتر بسته می گوید که این شورا می تواند کوشش های صلح را در کشور هرچه بیشتر تقویت نماید.

بریتانیا نیز حمایت و پشتیبانی خود را از تاسیس شورای عالی صلح در افغانستان به هدف مذاکره با مخالفین مسلح ابراز کرده و گفته است که با استفاده از راه نظامی صلح در افغانستان برقرار شده نمی تواند.

برنامه جلوگیری از استفاده مواد ...

هستند. آقای بشری گفت، از این جمله ۸۳۰ تن تدوای شده و سایرین نیز تحت تداوی قرار دارند.

در عین حال سخنگوی وزارت داخله افغانستان گفت که آنان در نظر دارند تا شیوه های تازه یی را به هدف تقویت ادارات پولیس و تقویت ارتباط پولیس با مردم نیز به اجرا بگذارند.

وزارت داخله در حالی این اقدامات تازه را روی دست گرفته است که در گذشته بسیاری از مردم این کشور به فعالیت های پولیس ملی بی باور بودند و اعتماد کمتری میان مردم و پولیس وجود داشت، به همین دلیل مردم افغانستان در موقع ضرورت کمتر روی فعالیت های پولیس ملی باور داشتند.

کارشناسان مسایل امنیتی معتقد اند، هرگاه پولیس ملی افغانستان بتواند به مانند گذشته یک اعتماد را میان مردم و پولیس به وجود بیاورند نه تنها در تلفات افراد پولیس کاهش بعمل می آید بلکه مردم خود شان در تامین امنیت محلات شان با پولیس ملی همکاری جدی خواهند کرد.